# له سیف الله مستنیر سره د حزب التحریر په اړه د ژمن مرکه

**د ژمن خبره**

ژمن انټرنټي پاڼه غواړي چې د خپلو لوستونکو په وړاندې هغه باب خلاص کړي چې چا لاس نه وي وروړی او داسې معلومات له لومړۍ مرجع څخه وروړاندې کړي چې د کره والي او اهمیت له اړخه په لومړي کتار کې وي. کلونه کېږي چې حزب التحریر په افغانستان کې فعالیت لري او هلته و دلته یې په اړه خبرې او تبصرې کېږي، موږ وغوښتل چې د دوی د مطبوعاتي دفتر له رییس سیف الله مستنیر سره مرکه وکړو، او ځینې مهم مسایل ورسره مطرح کړو.

**ژمن: حزب التحریر چا جوړ کړی؟ کله؟ په څه انګېزه؟ او اوس یې مشر څوک دی؟**

مستنیر: بسم الله الرحمن الرحیم- کله چې په اسلامي امت کې دوه لوی ټکانونه او ستونزې رامنځ ته شوې، چې یوه یې د کمال اتاتورک په لاس په ۱۹۲۴م کال کې د عثماني خلافت نړېدل وو او بیا وروسته د انګلستان او امریکا له خوا د اسلامي امت په زړه کې د صهیونېستي رژیم جوړېدل وو چې اسلامي امت ته یې سخت ټکان ورکړ؛ د دې ټکانونو په نتیجه کې مختلف اسلامي حرکتونه رامنځ ته شول، د اسلامي امت د یووالي هڅې یې کولې؛ خو ځینې حرکتونه په مختلفو دلایلو ناکام، تجزیه او یا له ګڼو نورو ستونزو سره مخ شول.

شیخ تقي الدین نبهاني چې د فلسطین د النبهان له قبیلې څخه په یوه علمي کورنۍ کې دنیا ته راغلی و، خپله هم د خپل پلار او نېکه په څېر د دین لوی عالم او فقیه شو. هغه د یو شمېر نورو علماوو په مشوره نبوي سنتو او سیرت ته مراجعه وکړه او هڅه یې وکړه چې اوسني حالت ته د سنتو او سیرت په رڼا کې علاج پیدا کړي. هغه ولیدل چې په اسلامي نړۍ کې پلي کېدونکي نظامونه کفري نظامونه دي، او په هېڅ ځای کې د اسلام مرکز نه و پاتې. نو اوسنی حالت یې د اصلاح وړ نه بلکې د تغییر او بنسټیز بدلون وړ وباله. یعنې هغوی دا واقعیت دار کفر تعریف کړ او د حزب التحریر له نظره دا د امت وجیبه ده چې اسلامي نړۍ په دار الاسلام بدله کړي.

شیخ نبهاني او نورو فکري ملګرو یې حزب التحریر په ۱۹۵۳م کال کې په بیت المقدس کې جوړ کړ، خو له یوې اوونۍ فعالیت وروسته، له پنځو موسسو غړو څخه یې څلور تنه بندي او پر حزب هم بندیز ولګېده. له دې سره هم دوی د حزب د افکارو د خپرولو له پاره کار ته دوام ورکړ. د شیخ نبهاني د مشرۍ پر مهال، په فلسطین، اردن، سوریه او لبنان کې د حزب فکر خپور شو، مختلفې تثقیفي حلقې جوړې شوې او له امت سره ډله ییز تفاعل (فکري عمل او سیاسي مبارزه) پیل شوه.

شیخ نبهاني د فکر د خپراوي په لاره کې له ډېرو ستونزو سره مخ شو او ډېر وارې بندي هم شو. په وروستي وار، په عراق کې ونیول شو، او تر دې حده تعذیب شو چې دواړه لاسونه یې فلج شول. دا چې نبهاني هر چېرته خپله څېره بدلوله، عراقي چارواکو نه پېژانده خو شکمن وو. عراقیانو یې شاګرد ورته راوستو، چې څو څېرې یې ووهي، شاګرد یې د دې له پاره چې راز یې افشا نه شي، خپل امیر څو څپېړې وواهه. مخکې تر دې چې د اردن د حکومت لیک عراق ته ورسېږي او خبر یې کړي چې همدا نیول شوی سړی شیخ نبهاني دی، دوی یې د لبنان په پوله په داسې حالت کې خوشې کوي چې لاسونه یې فلج شوي وو.

بیا لبنان ته ځي او هلته د ژوند تر پایه پاتې کېږي او هماڵته وفات کېږي. د ده له مړینې وروسته د حزب التحریر امارت شیخ عبد القدیم زلوم په غاړه اخلي، چې دی هم د حزب د لاربنودې حلقې له غړو څخه وو. هغه هم فلسطینی عالم و او الازهر یې لوستی و. تر ۲۰۰۳م کاله پورې دی د حزب التحریر امیر پاتې شو. د ده د امارت پر مهال د حزب دعوت منځنۍ آسیا، اروپا، پاکستان، هندوستان او نورو سیمو ته رسېږي.

په ۲۰۰۳م کال کې د ده له وفاته ځلوېښت ورځې مخکې، د جسمي کمزورۍ له امله یې استعفا وکړه او د ده پر ځای شیخ عطاء ابن خلیل ابو رشته د حزب التحریر امیر کېږي، چې تر دې مخکې د حزب التحریر د اردن ولایت ویاند و. شیخ عطا هم فلسطینی انجینیراو عالم دی، الازهر یې لوستی، فقهي او اصولي عالم او مجتهد هم دی. تر ننه پورې همدی د حزب التحریر امیر دی. اوس د منځني ختیځ په هېوادونو کې له استعمار نه پټ اوسېږي، زه نه شم واضح کولای چې چېرته اوسېږي. دی هم لسګونه کلونه د سعودي، اردن، لیبیا او نورو مختلفو عربي هېوادونو په زندانو کې بندي شوی دی.

**ژمن: افغانستان ته دا فکر، کله او د چا په واسطه راوړل شو؟**

مستنیر: له روسانو سره د جهاد دورې په اوایلو کې د کونړ او ننګرهار ځینې ځوانانو دغه فکر او دعوت پیل کړی و، خو دا چې د جهاد وخت و، مخکې له دې چې دوی په افغانانو کې نفوذ وکړي، دوی شهیدان شول. له دې وروسته حزب په افغانستان کې مناسب کسان نه لرل، نو تر ۲۰۰۳م کاله پورې یې دلته کوم فعالیت نه لاره. په ۲۰۰۳م کال کې حزب وتوانېده چې په افغانستان کې یو وار بیا خپله لومړنۍ هسته رامنځ ته کړي او تر ننه یې دعوت جریان لري.

په افغانستان کې د حزب التحریر بنسټګر او مشر ځکه نه شو ښکاره کولای، چې استعمار په اسلامي حرکتونو کې ننوځي او د تجزیې او نورو ستونزو د رامنځ ته کولو له پاره یې هڅې کوي. د همدې له پاره موږ تل خپل اداري سېستم پټ ساتلی دی. په افغانستان کې د حزب التحریر مشر زموږ یو ورور دی، او د ابو الرشته تر مستقیمې مشرۍ لاندې دلته فعالیت کوي.

**ژمن: په افغانستان کې حزب التحریر پټ یا ښکاره دفتر لري؟**

مستنیر: دا چې موږ د افغانستان اساسي قانون یو استعماري او د خلکو په رایه جوړ شوی قانون بولو، له اسلام نه یې لرې بولو، ولو که د اسلام یادونه په کې شوې، خو دلته اسلام نه شته، بلکې ملندې وریوړې وهل شوې دي.. نو دا چې موږ د افغانستان اساسي قانون او د هغې پر اساس جوړ شوي قوانین نه منو، نو موږ په وزارت عدلیه کې رسمي نه یو او دفتر هم نه لرو.

که چېرته په افغانستان کې د احزابو رسمي کېدل یوازې د علم او خبر د یوه مکتوب په واسطه وای، موږ به خپل ګوند رسمي کړی وای، خو اوس داسې نه دي. مثلا په لبنان کې زموږ ګوند رسمي دی، ځکه چې هلته د احزابو قانون د عثماني خلافت قانون دی. هلته یوازې حکومت خبرول کېږي چې موږ فعالیتونه لرو، نور تحمیلونه نه شته؛ خو افغانستان کې باید اساسي قانون او نور قوانین ومنو او په ملي محدوده کې کار وکړو، چې د اسلام او امت له طبیعت سره بشپړ ټکر لري.

**ژمن: د افغانستان حکومت کې خو ستاسې غړي کار کوي؟**

مستنیر: هو، د افغانستان حکومت کې، زموږ غړي په هغو پوستونو کې کار کوي چې جواز لري. لکه د مشاوریت پوست، اداري ماموریت... ولې په حکمي پوستونو کې، چېرته چې د مسؤول لاسلیک حاکمیت تامینوي، لکه والي، ولسوال، معین، وزیر او نور پوستونه چې حکمي بلل کېږي، دغسې پوستونو کې زموږ کسان کار نه شي کولای. د اشغالګرو تر فرمان لاندې په وسله والو او استخباراتي ځواکونو کې موږ ته کار حرام دی، ځکه چې عملا له مسلمانانو سره جګړه کوي. نو موږ ته یوازې حلالو پوستونو کې کار جواز لري او بس.

**ژمن: که همدې «حلالو» پوستېونو ته ژور وګورو، د همدغه حکومت جز دي. دې کې شک نه شته چې مهمو پوستېونو باندې حکومت ولاړ دی، خو دا واړه پوستېونه همدغه حکومتونه تکمیلوي. تاسې حکومت کافروئ، خو بیا په کې حلال کارونه هم وینئ!**

مستنیر: دا فقهي موضوع ده. په مکي دور کې اصحابو له کفارو سره مزدوري او کارګري کړې ده او نور کارونه یې ورته کړي دي. یعنې په دار الحرب کې هم یو شمېر کارونه روا دي.

په پوستېونو کې باید دوو واقعیتونو ته وکتل شي. یو دا چې ستا قرارداد چا سره دی، بل دا چې واقعیت د پوستې څه دی؟ که واقعیت د پوستې حاکمیت و، تجسس و، د مسلمانانو وژل او دې ته ورته کارونه وو، دا د واقعیت پر اساس حرام دي. بله دا چې که چېرته قرارداد له بالفعل محارب سره و، یعنې له څلوېښتو هېوادونو سره چې افغانستان یې اشغال کړی دی او یا هر هغه هېواد چې د نړۍ په کوم ګوټ کې له مسلمانانو سره جګړه کوي، بیا که د پوستې واقعیت حلال هم وي، قرارداد حرام دی. پر همدې اساس، موږ نه له کفارو سره کار کوو او نه په حرامو پوستېونو کې کار کوو.

دا چې ټول پوستېونه ناروا دي، داسې نه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دا کار نه و کړی، سره له دې چې هغه وخت مقابل لوري کې یوازې کفار وو، نن خو په حکومت کې مسلمانان دي او له اسلام سره یوه همدردي لري، خو د خپلو ګټو، مصلحت او یا وېرې له مخې په کې کارکوي، نور هغوی هم په دغه ناروا حکومتونو باندې تر ډېره رضایت نه لري.

**ژمن: په افغانستان کې حزب التحریر څومره کسان لري؟**

مستنیر: دا داسې یوه پوښتنه ده، چې موږ هېڅ ځای کې نه ده ځواب کړې او باید همداسې پاتې وي. مګر دا اوس ټولو نړیوالو ته ثابته ده، چې موږ یو لوی، نړیوال، پیاوړی، فکري او سیاسي حزب یو، چې له امت سره محاسبه کوو، زموږ دنده دا ده چې باید امت پوه کړو، د کفري نظامونو پر وړاندې یې راپاڅوو او د رسول الله په طریقه یې یوه بشپړ سیاسي نظام ته وهڅوو.

**ژمن: د دې له پاره تعداد نه ښکاره کوئ، چې که لږ وي، غړي مو مایوس نه شي؟**

مستنیر: نه، خو تاسې فکر وکړئ، دا چې په کابل پوهنتون کې د حزب التحریر غړي په زرګونو کسان راوباسي، یا په اندونیزیا کې د خلافت د سقوط په ورځو کې دوه اویا کنفرانسه وکړي او په هر کنفرانس کې په لس ګونو زره کسان په کې برخه واخلي، او د رجب د اته ویشتمې په یوه کنفرانس کې تر ۱۴۰۰۰۰ ډېر کسان برخه اخلي، دا د حزب التحریر قوت ښکاره کوي.

**ژمن: په افغانستان کې د لاریونو امتیاز یوازې حزب التحریر ته څکه نه شي ورکول کېدای، چې دا خلک مسلمانان دي، او د اسلامي مسایلو له پاره له هر چا سره راوځي، دا خو په دې معنا نه چې دوی به ضروري په هغه ډله کې وي.**

مستنیر: یو شی باید سوء تعبیر نه شي.. حزب التحریر هېڅ کله نه غواړي د امتیاز له پاره کار وکړي. موږ غواړو امت پر اسلام منګولې ولګوي.

په ټولو مسلمانانو کې داسې ډله له حزب التحریر نه پرته نه شته چې له ملي اجندا ها خوا د امت د یووالي له پاره کار وکړي. موږ غواړو چې امت د رسول الله په طریقه رهبري کړو، نه دا چې له هر کار نه استفاده وکړو او امتیاز پرې واخلو.

په افغانستان کې چې امت د حزب التحریر په لارښوونه په کابل، تخار، بدخشان... کې لاریون کوي، دوی پر موږ اعتماد کوي او د فکر ملاتړ مو کوي. اوس امت له موږ سره منلې ده چې دیموکراسي کفري نظام دی، امت له موږ سره منلې چې له کفارو سره ستراتیژیک او امنیتي قراردادونه حرام دي، امت له موږ سره منلې چې دا واقعیت اشغال شوی دی او آزادۍ ته اړتیا لري؛ نو حزب التحریر امت ته هغه

طریقه وړاندې کوي چې د خلافت له تاسیس نه مخکې باید له کومو لارو چارو استفاده وکړي او بیا چې یې دولت جوړ کړ، څه ډول پرې اسلام تطبیق او نړیوالو ته حمل کړي.

**ژمن: په افغانستان کې څه ډول مبارزه کوئ؟ وسله واله مبارزه، که یوازې سیاسي؟**

مستنیر: دوه مسئلې باید تفکیک شي، یو دا چې حزب التحریر یو سیاسي حزب دی، او د دې آیت شریف په اساس باندې رامنځ ته شوی چې الله تعالی فرمایي: «ولتکن منکم امة یدعون الی الخیر ویامرون بالمعروف وینهون عن المنکر واولئک هم المفلحون» یعني: خامخا به له تاسو (اسلامي امت) څخه یوه ډله وي، چې خیر(بشپړ اسلام) ته به دعوت کوي، امر به په معروف کوي او له منکر څخه به نهی کوي او همدوی به د فلاح او خلاصون وړ وي.  کله چې تاسې حزب التحریر ته د یوه سیاسي حزب په نظر ګورئ، باید د نورو ګوندونو په څېر یې ونه بولئ؛ ځکه نه حزب التحریر په نورو قیاسېږي او نه نور په حزب التحریر قیاس کېدلی شي. موږ د اسلام په شکل د تېر آیت د مصداق له پاره د هماغې ډلې په څېر رامنځ ته شوي یو چې قرآن ورته اشاره کړې. موږ امر بالمعرف کوو، نهې عن المنکر کوو او بشپړ اسلام ته خلک رابولو. بشپړ اسلام په دې معنا، چې د اسلام ټولو اقتصادي، سیاسي، ټولنیز، تعلیمي، کورني، بهرني سیاست او … برخو ته خلک رابولو، ترڅو امت او احزاب یې د اسلام له مخې خپلې ګټې او زیانونه وټاکي.

زموږ لومړی کار تثقیف دی. یعنې موږ یوه شمېر کسان په اسلامي ثقافت برابروو، بیا د هغوی د شخصیتونو له بشپړ تغییر وروسته، هغوی له حزب سره یوځای کوو، هغوی بیا له امت سره د ډله ییز تثقیف او تفاعل (فکري عمل او سیاسي مبارزې) په موخه کار کوي، ترڅو په امت کې عامه رایه د اسلامي خلافت د تاسیس له پاره برابره شي. کله چې پوه شوو چې په ټولنه کې مثبته عامه رایه جوړه شوې ده، وروسته اهل قدرت قانع کوو او د اسلامي دولت لومړنۍ هسته رامنځ ته کوو.

**ژمن: تاسې اوس په کومه مرحله کې یاستئ؟**

مستنیر: موږ په نړیواله سطحه د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه کافي حزبي کتله تثقیف کړې ده او په امت کې مو هم پیاوړې عامه رایه رامنځ ته کړې، یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدلون د طریقې د تثقیف او تفاعل مرحلې مو بشپړې کړې دي، نو د نظام په اډانه کې د اسلام د بشپړ تطبیق او نړیوالو ته د دعوت او جهاد له لارې د اسلامي دعوت د رسونې لپاره، له اهل قدرت څخه د (طلب النصرې) په انتقالي حالت کې یو، چې د اوس او خزرج د مشرانو په څېر به اهل قدرت له بشپړ قناعت وروسته حزب ته د چارو واګې سپاري، چې هغه مهال به د الله سبحانه وتعالی په اذن سره د اسلامي دولت لومړنۍ هسته رامنځ ته شي. په افغانستان کې هم موږ د دعوت د دویمې مرحلې (تفاعل) د مرحلې د بشپړتیا په درشل کې یو؛ خو دا چې افغانستان یو اشغال شوی هېواد دی، د افغانستان د واکمنانو واک په مستقیم ډول د یرغلګرو تر واک لاندې دی، یعنې دلته موږ کوم جنرال نه وینو چې د امریکا له مشورې پرته، خپله آزاد فکر وکړي، له موږ سره قناعت وکړي او سبا له موږ سره په طلب نصره کې مرسته وکړي، له همدې امله موږ دلته د (طلب النصرې) کومه هڅه نه لرو.

**ژمن: تاسې په افغانستان کې د حکومت مخالف یاستئ، خو مبارزه مو نظامي نه ده. بلکې یوازې فکري؟**

مستنیر: سیاسي حزب نظامي مبارزه نه لري، سیاسي حزب یوازې سیاسي کار کوي. موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه د امت د نهضت او اساسي تغییر او بدلون له پاره کار کوو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه کې جهاد د تغییر طریقه نه ده. لکه څنګه چې یو شمېر نور فرایض لکه لمونځ، روژه، زکات او … د تغییر او بدلون طریقه نشي کېدلی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه وخت وسله واله مبارزه کړې ده، چې دولت یې تاسیس کړی دی. په حزبي شکل، موږ چې تر کومه وخته دولت نه وي تاسیس کړی، نظامي مبارزه نه کوو. لکه څنګه چې لمونځ او حج په حزبي لحاظ نه تنظیموو جهاد هم په حزبي لحاظ نه تنظیموو. هر چېرته چې د جهاد په شمول د هرې فریضې شرایط رامنځ ته شي، حزبي غړي هغه فرض له امت سره یو ځای ترسره کوي. مګر د سیاسي حزب په اړانه کې لکه څنګه چې د لمانځه، روژې او حج امور نه تنظیمېږي، د جهاد موضوع هم نه تنظیموو، خو دا د دې معنا نه لري، چې حزبي غړي، لمونځ، روژه، زکات او ... نه ترسره کوي.

**ژمن: د طالبانو په اړه څه نظر لرئ؟ د دوی وسله واله مبارزه تاییدوئ او که یې نه منئ؟**

مستنیر: موږ د اسلامي امت په منځ کې د اسلام پر بنسټ د هغوی د راپاڅولو او بیدارولو لپاره کار کوو. ټول هغه مسلمانان چې یا د اشغال په وړاندې مبارزه کوي، یا د دې کفري نظامونو په وړاندې د شرعي احکامو پر اساس فکري، سیاسي او نظامي مبارزه کوي، د دې حرکاتو کار صحیح دی، خو د حل لار نه ده. طالبان له ځینو اشتباهاتو سره-سره بیا هم د اشغال د دفعې له پاره جهاد کوي، خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه د دولت د تاسیس او د بنسټیز تغییر له پاره متمرکز فکري او سیاسي کار د امت لپاره یوازنۍ حل لاره ده او دا باید په امت کې د ریښتیني اسلامي دولت تر تاسیس پورې دوام پیدا کړي.

نو موږ طالبان هم د اسلامي ډلې په توګه منو.

**ژمن: ویل کېږي چې حزب التحریر د اسلامي دولتونو په پوځ کې هم کار کوي، تاسې د افغانستان پوځ او پولیسو کې کسان لرئ؟**

مستنیر: لومړی: خو په اسلامي خاورو کې اصلا اسلامي دولت نشته، دا ټول غیر اسلامي نظامونه او ښکېلاکګرو ته وفادار رژیمونه دي. له همدې امله موږ د دغو لاسپوڅو نظامونو د نړولو لپاره متې رانغښتې دي. ترڅو ریښتینی اسلامي نظام رامنځ ته کړو. دویم: نه. زموږ غړی په پوځ کې کار نه شي کولای، خو د اسلامي خاورو د کفري نظامونو په پوځونو کې یو شمېر داسې پوځیان او جنرالان شته چې هغوی مستقیما له کافر نه احکام او قومانده نه اخلي، بلکې له یوه فاسق مسلمان نه یې اخلي. دوی موږ دعوتوو، چې یوه ورځ مسلمانانو ته قدرت تسلیم کړي.

**ژمن: تاسې د حکومتونو سخت مخالف یاستئ، کافر یې بولئ، د دوی په مقابل کې کار کوئ او وسله واله مبارزه هم تاییدوئ، یوه پوښتنه دا رامنځ ته کېږي، چې ستاسې په مقابل کې دومره جدي غبرګون نه ښودل کېږي، لکه د نورو اسلامي ډلو په مقابل کې چې ښودل کېږي.**

مستنیر: کومه میډیا چې زموږ په مقابل کې واقع ده، هغه د غرب میډیا ده، ټولې نړیوالې میډیا پر موږ تحریم لګولی، په ډېرې سختۍ زموږ یوه مرکه په رسنۍ کې خپرېږي، زموږ خپل مطبوعات شته، خو دومره قوي نه دي لکه د رابرت مردوخ مطبوعات چې دي. رابرت مردوخ هغه یهودی دی چې د کانګرېس له خوا په افغانستان کې مطبوعاتي پروژې پلې کوي.

یعنې د غربي میډیا د سیطرې له امله، خلک چې پر موږ کوم قضاوت کوي هغه د همدې غربي میډیا له سترګو وي او دوی تل هڅه کوي چې موږ له نورو سره وتړي.

په ۲۰۰۵م کال کې، په اندیجان کې زموږ په زرګونو کسان قتل عام شول، تاسې به یې په اړه یو راپور نه وي اورېدلی. د ازبکستان په بندیخانو کې تر اتو زرو ډېر زموږ کسان بندیان دي. آیا دا جدي عکس العمل نه دی؟ په افغانستان کې له ۲۰۰۹م کاله نه وروسته زموږ دعوت علني شوی دی، له دې وروسته یوه ورځ هم د افغانستان بندي خانې زموږ له وروڼو نه دي خالي شوي. په پاکستان کې هره ورځ زموږ کسان نیول کیږي. د حزب التحریر ولایه پاکستان ویاند ښاغلی نوید بټ له دوه کلونو راهیسې تښتول شوی، د سوریې پاخون وال له

همدې امله دومره ربړول کيږي، چې له سياسي پلوه يې ډېرى مشرانو د حزب سياسي اجنډا منلې او هره ورځ دغه فکر پکې لا بنستيز کيږي.

**ژمن: خو تاسې د سيف الله مستنير په نامه په کابل کې ګرځئ، مرکې هم کوئ او آن په تلويزيونو کې هم راښکاره کېږئ. نور ځينې غړي مو شته چې خلک يې پېژني، خو څوک څه ورته وايي نه؛ خو که د القاعدې يا نورو مخالفو ډلو وياندان په کابل کې ستاسې په څېر وګرځي، همداسې به پاتې شي؟**

مستنير: دا بايد قياس نه شي، ذبيح الله مجاهد د يوې نظامي ډلې وياند دى، او سيف الله مستنير د يوې فکري او سياسي ډلې وياند دى. نظامي فعاليت حکومت مستقيما او ډېر خوروي، خو موږ فکري کار کوو او امت ويښوو، دا داسې کار دى چې دوى د خپلو قوانينو له مخې هم ورسره مخالفت نه شي کولاى. خو دا هم بايد هېره نه کړئ، چې زموږ ګڼ شمېر ملګري په زندانو کې دي.

حکومت موږ په آرامه نه پرېږدي. تاسې به څو مياشتې مخکې ليدلي وي چې حکومتي استخباراتي کړيو په ډېره پراخه کچه پوسټرونه او بروشرونه وېشلي او خپاره کړي وو او هر چا چې د دې مخه نيولې، امنيت يې مخې ته درېدلى دى؛ نو په غالب ګومان، دا کار د افغانستان ملي امنيت کړى دى.

**ژمن: د حزب التحرير عمومي مرکز چېرته دى؟**

مستنير: په ځينو هېوادونو کې، لکه تونس، سوډان، اندونيزيا، لبنان... چې احزابو ته په کې دومره مشکلات نه شته، هلته موږ عملا مطبوعاتي دفترونه لرو، چې پر سر يې لوحه لګېدلې او د حزب نوم پرې ليکل شوى. خو د پاکستان، افغانستان، ازبکستان، قرغزستان په څېر هېوادونو کې قوانين موږ نه پرېږدي، چې علني دفترونه ولرو. دوه کاله مخکې، په دوبۍ کې په يوه نندارتون کې زموږ کسانو حزبي کتابونه نندارې ته وړاندې کړي وو، په نندارتون کې هغه نندارخونه وتړل شوه، کتابونه هم واخيستل شول او هغه کسان هم بنديان شول.

زموږ تر ټولو څرګند مرکز، د حزب مرکزي مطبوعاتي دفتر دى. زموږ مرکزي وياند عثمان بخاش دى، د لبنان په طرابلس ښار کې دى. پاتې شو د امير دفتر، لکه څرنګه چې زه خپل کارونه پرته له رسمي دفتره تنظيموم، همداسې نور وروڼه هم خپل کارونه له رسمي دفتر پرته تنظيموي.

**ژمن: ويل کېږي چې ستاسې مرکزيت په اروپا کې دى. هلته خپل مسجدونه او ښکاره مرکزونه لرئ او افغانستان ته هم دغه فکر له اروپا نه راغلى؟**

مستنير: دا ډېره مهمه نه ده چې له کومه راغلى، څکه فکر فکر دى، هغه که له اروپا نه راغلى او که له منځني ختيځ نه، هماغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم فکر دى. خو څنګه چې موږ په اروپا کې کار کوو، دغسې په افغانستان، تاجکستان او ازبکستان کې هم کوو.

که څه هم په انګلستان او امريکا کې قوانين آزاد دي او موږ ته دومره مشکلات نه شته، خو بيا هم موږ په آرامه نه پرېږدي او ډول- ډول دسيسې جوړوي. مثلا د انګلستان لومړي وزير، ډېوېډ کامرون د کمپاين پر مهال ويلي چې که زه قدرت ته ورسېږم، حزب التحرير بندوم؛ څکه چې دوى اسراييلي دولت نامشروع بولي؛ خو چې قدرت ته راغلى، په هغه ټولنه کې د هغوى د ارزښتونو لکه د بيان او عقيدې د مطلقو آزادي ګانو د شتون له کبله يې زموږ قطعي مخه نه ده نيولې، خو په اروپا کې هم دې سرحد ته خبره رسېدلې چې په جرمني کې حزب التحرير ممنوع شوى او کېداى شي په نورو کې هم ممنوع اعلان شي.

**ژمن: د وخت په تېرېدو سره حالات بدلېږي، علما وايي چې اسلامي فقه هم له وخت او ځای سره بدلېږي. د حزب التحرير فکر د وخت او ځای له بدلون سره د څومره بدلون قابليت لري؟**

مستنير: د دوو شيانو فرق بايد وکړو. دا قاعده چې په فقه کې رامنځ ته شوې، چې شرعي احکام د وخت او ځای په بدلون سره بدلېږي، دا د اسلام د تحريف له پاره وضعه شوې قاعده ده، دا شرعي قاعده نه ده. خو اسلام دا وړتيا لري چې د قيامت تر ورځې د بشر ستونزې حل کړي. خو دا ستونزې د احکامو د بدلون پر بنسټ نه شي حل کېدای. بلکې دا په هغه حالت کې کېدای شي چې په امت کې اجتهاد وي، مجتهدين به له هر وخت سره سم له قرآن او سنت نه احکام استنباطوي. حزب التحرير له دغه فکر سره چې اسلام له واقعيت سره تغيير مومي، کاملا مخالف دی. مگر د واقعيتونو له پاره مجتهدين لري او له قرآن او سنتو نه د دغو نويو واقعيتونو لپاره اجتهاد کوي او شرعي احکام ورته وړاندې کوي.

اوس موږ خپل فکر د وخت د بدلون له پاره دومره نه شو بدلولای چې ډيموکراسي ومنو او خلافت پرېږدو. د ديموکراسۍ منل اجتهادي مسئله نه ده. خلافت د اسلام سياسي نظام دی.

**ژمن: ستاسې ټول فکر د خلافت په رامنځ ته کولو څرخېږي، د خلافت رامنځ ته کول خو څه آسانه خبره نه ده. تاسې غواړۍ دومره مخکې لاړ شئ او د هغه وخت سياسي نظام په يو ويشتمه پېړۍ کې پلی کړئ. د دې له پاره څه پلان لرئ؟**

مستنير: خلکو ته داسې ښکاري چې موږ څوارلس سوه کاله شاته ځو او خلافت غواړو، داسې نه ده. خلک بايد پر دې فکر وکړي چې د انسانانو مادي ژوند له آدم عليه السلام نه تر اوسه پورې تغيير کړی. موږ په مادي شکل عقب گرايي نه کوو، بلکې د رسول الله صلی الله عليه وسلم نظام به اوسنی مادي ژوند يو ځل بيا تنظيموي.

اوس د دې له پاره پلان، هماغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم طريقه ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم اول د اصحابو يوه کتله جوړه کړه، هغوی له ولس سره تفاعل (فکري عمل او سياسي مبارزه) وکړه، د ولس ټولې حرامې نظريې او رواجونه يې په شديده توگه وننگول او بالاخره يې له منځه يووړل. نن هم پر موږ کفري او وضعي قوانين پلي کېږي، مسلمانان د پارلمان او ډيموکراسۍ حکم نه پېژني.... حزب التحرير دغه مسايل امت ته بيانوي، له هغوی څخه غواړي چې د ژوند په ټولو برخو کې د بشري قوانينو پرځای پر الهي شريعت باندې منگولې ولگوي. کله چې عامه رايه جوړه شوه او دوی يو اکثريت ته ورسېدل، بيا د (طلب النصرې) انتقالي مرحله رارسېږي. اوس په دغو تېرو شپېتو کلونو کې په اسلامي امت کې کار شوی، اوس موږ دغه انتقال مرحلې ته رسېدلي يو، معنا دا چې د اسلامي امت د اصلي قدرت خاوندان دې ته برابروو چې موږ ته واک وسپاري. موږ په ترکيه، پاکستان، بنگله دېش، مصر او د اسلامي نړۍ د نورو هېوادونو په پوځونو کې کار کوو چې واک موږ ته راوسپاري.

د تفاعل په ترڅ کې بايد خلک دغه ډول نظام ته تيار وي، داسې نه وي لکه د طالبانو نظام چې دوی به خلک لمانځه ته هڅول، هغوی گومان کاوه چې استبداد پرې کوي. په ټولنه کې د لمانځه د قايمولو طريقه دا ده چې تارک صلاة ته بايد د شرعي محکمې د حکم له مخې تعزيري جزا ورکړل شي، نه دا چې لاره کې ځنځير واچول شي او په اودس لرونکي او بې اودسه خلکو لمانځونه وشي.

زموږ له نظره، په اسلام بشپړه سنمباله يوه کتله بايد وي، هغه بايد په امت کې کافي عامه رايه رامنځ ته کړي، ورپسې يو شمېر اهل قدرت ته به قناعت ورکوي، نو دلته به د اسلامي دولت لومړۍ هسته رامنځ ته کېږي. دا چې موږ نړيوال کار کړی، وروسته کولای شو، چې ډېره ژر دغه هسته پراخه کړو او له غرب سره د اسلامي امت هر ډول نامشروع اړيکې پرې کړو.

**ژمن: څه فکر کوئ څومره وخت کې به مو خلافت راولئ؟**

مستنير: موږ په دې تسلط نه لرو او نه شو ویلای چې کله به خلافت رامنځ ته کوو. دا د الله سبحانه وتعالی له تقدیر او مرستې سره سم راځي... په داسې حال کې چې د کفارو بېلابېل څېړنيز مرکزونه د دغه نړیوال نظام راتګ د همدغه پېړۍ د دویمې او دریمې لسیزې په جریان کې ګڼي او سخت ورڅخه په وېره کې دي.

**ژمن: تاسې چې خپل کار ته ګورئ، څه فکر کوئ څومره کار مو کړی او خلافت ته څومره نږدې شوي یاستئ؟**

مستنير: که الله تعالی وغواړي، سبا هم دا کار کېدای شي. موږ هڅه کوو چې څومره ژر راشي، یعنې د سبا پر ځای نن، خو دا چې الله سبحانه وتعالی نه غواړي، یا صفونه پاکوي، یا ځينې نورې مفکورې ناکامې ثابتول غواړي، ځکه يې اوس نه دی رامنځ ته کړی. اوس موږ ځينو غربيانو غوندې دا وړاندوینه نه شو کولای.

دغه خلافت چې داعش رامنځ ته کړی، دا د اصلي خلافت د بدنامولو له پاره جوړ شوی. کومو حرکتونو چې هدف يې خلافت نه و، اوس وايي چې زموږ هدف هم خلافت دی، خو اوس د ډیموکراسۍ له لارې مخکې ځي، دا ټول زموږ له فکر څخه د هغوی تاثر دی. اوس خلک پوه شوي چې له خلافته پرته بله لار نه لرو.

**ژمن: فرض کړو تاسې خلافت رامنځ ته کړ، خليفه څنګه انتخابوئ؟**

مستنير: که موږ د اسلامي امت په پوځونو کې خلکو ته قناعت ورکړی وي، نو دوی به زموږ له امير سره بيعت کوي. خو موږ چې په کومه ورځ خلافت ونيسو، د ټولو اسلامي خاورو له مخلصو اسلامي احزابو، قبايلو او مشرانو سره به په مشوره هغوی په واک کې شاملوو او بالآخره د خلافت لومړی هسته به رامنځ ته کېږي. موږ داسې نه کوو چې د امت واک غصب کړو. کله چې زموږ له امير سره د خليفه په توګه بيعت وشي، هغه بيا د حزب امير او آن غړی هم نه دی، بيا اميرالمؤمنين دی. دغه خلافت کې به ټولو مسلمانو ډلو ته سهم ورکول کېږي. زه ډاډه يم، کله چې په سمه طريقه خلافت راځي او د مؤمنانو له ريښتينې امير سره بيعت کيږي، هېڅ مخلصه ډله به د هغه له بيعته انکار نه کوي.

دا خو به لومړی وار وي، مطلب دا چې خلافت نه شته او له نشت نه وروسته له خليفه سره بيعت کېږي، وروسته که بيا امير مړ کېږي، يا د چارو له سمبال نه عاجز کېږي او يا په بل هر حالت د خلافت پوست خالي شي، بيا به د حل و عقد د شورا له لارې د امت استازي بل خليفه يا امير ټاکي او ورسره به بيعت کوي.

**ژمن: که د خلافت له رامنځ ته کېدو وروسته، ستاسې له امير سره دغسې اختلاف وشي، لکه له داعش سره چې کېږي، له هغو سره به څه کوئ؟**

مستنير: دې ته بايد فکر وکړو چې څوک يې نه مني؟

**ژمن: مسلمانان يې نه مني. لکه د داعش له خلافت سره چې مخالف دي.**

مستنير: داعش کله د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه نظام راوستئ؟ کله يې نړيوال کار کړی؟ د داعش اصل څوک پېژني؟ اوس يې چې خلک په څه پېژني، هغه يوازې جنايت او له اسلام څخه منحرف فهم دی. حزب التحرير جنايت نه دی کړی او لږ تر لږه په يوه اسلامي حکم يې لا تراوسه له چا سره معامله نه ده کړې. داعش خو هره شېبه معامله کړې، هره لحظه يې اسلام بدنام کړی. موږ له راتلونکي اسلامي خلافت سره د مخالفت تصور نه کوو؛ ځکه، د نړۍ هرې برخې ته موږ د خلافت مفکوره رسولې ده. د خلافت لپاره مو دستور (اساسي قانون) يوازې د قرآن، سنت، اجماع او قياس پر بنسټ د شرعي اجتهاد له لارې د دليل د قوت له مخې امت ته وړاندې کړی او د امت د سياسي، اقتصادي، اجتماعي، تعليمي او ... ژوند لپاره مو هراړخيزه يوازې شرعي کړنلاره تياره کړې ده.

مگر بیا هم یو شمېر مخالفتونه به پیدا شي، خو زه ډاډ درکوم، دا به هغسې مخالفتونه نه وي. یا به کېدای شي د ځینو استخباراتي کړیو مخالفتونه وي. له هغوی سره به موږ فیصله کوونکی تعامل کوو، لکه څنګه چې علي رضي الله عنه له خوارجو سره وکړ.

خو که د اسلامي نړۍ مخلصین مخالفت وکړي، موږ ډاډه یو چې هغوی به پنځه ورځې مخالف وي، موږ ورځو، د شریعت پر معیار د افهام او تفهیم په نتیجه کې ټوله ستونزه ورسره حل کوو.

**ژمن: که له دوی سره کومې نتیجې ته ونه رسېدئ؟**

مستنیر: په هغه صورت کې د یوه نفر مخالفت د هغه خپله غلطي ده. دوی بیا د خلافت مشروعیت تر سوال لاندې نه شي راوستلای.

**ژمن: که د خلافت اهمیت او حیثیت ته په دین کې وګورو، همدومره مهم دی چې تاسې ورته ګورئ؟ معنا دا چې، خلافت وسیله ده، هدف نه دی. ګومان نه کوئ چې له وسیلې مو هدف جوړ کړی؟**

مستنیر: خلافت یوې خوا ته پرېږده، اسلامي حاکمیت په نظر کې ونیسه. که څوک په حکم بما انزل الله فیصله نه کوي، ظالم او فاسق دی، او که پرې باور نه لري، کافر دی. معنا دا چې خلافت دومره مهمه وسیله ده، چې آن د هدف مقام ته رسېږي. ځکه له رسول الله وروسته د اسلام د تحکیم لپاره د هغه له ځایناستي (خلیفه) سره بیعت کیږي، ترڅو د رسول الله صلی الله علیه وسلم راوړی شریعت پر خلکو حاکم کړي او نړیوالو ته یې د دعوت او جهاد له لوري ورسوي.

**ژمن: په اسلامي نړۍ کې ډېر علما په دې باور دي چې اسلام یو معلوم سیاسي نظام نه لري. همدا لامل دی، چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات کېږي، له راتلونکي سیاسي نظام سره ډېر سرسري تعامل کوي او خپل ځای ناستی هم نه ټاکي.**

مستنیر: رسول الله داسې یوه کتله له ځانه وروسته پرې ایښې وه، چې څلور ویشت کاله یې په ډېرو سختو شېبو کې په خپل لاس روزلې وه. هغه وخت کې وحې راتله، د دوی د ستونزو علاج یې کاوه او دوی تثقیف کېدل. د خلیفه ټاکل رسول الله صلی الله علیه وسم همداسې پرې ایښي. یعنې د انتخاب اسالیب یې امت ته پرې ایښې دي، مګر یو کس د بیعت د هغه عقد له مخې خلیفه کیږي، چې پر امت یوازې اسلام تطبیق کړي. خو اسلامي نظام د رسول الله په وخت عملي شوی دی، موږ په کې کوم بدعت نه کوو او نه یې کولای شو. رسول الله د خلیفه ټاکل امت ته پرې ایښي، خو نظام یې نه دی پرې ایښی. نظام اسلامي و چې لومړی رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو احادیثو او بیا وروسته صحابه و خلافت وباله.

دغه علما چې وایي، اسلام معلوم سیاسي نظام نه لري، دغه نظریه د خلافت د شتون په وخت کې موجوده نه وه. دا خلک د اروپا د فکري انقلاب تر تاثیر لاندې راغلي دي او عملا غرب ورته د اسلام د سیاسي نظام د مفکورې د محوه کولو په موخه پروژې ورکړې دي. د خلافت مفهوم او اصطلاح لومړی په قرآن، بیا په سنتو او بیا د صحابه وو په اجماع باندې ثابته ده، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته اسلامي دولت د خلافت په نامه یاد شوی. نو هېڅوک د دې حق نه لري د خلافت په مفهوم باندې دا ډول ناروا تېری وکړي. ځکه دا اوسنی مصحف هم د اصحابو په اجماع تر موږه رارسېدلی دی او د خلافت سیاسي نظام هم. نو د خلافت نه منل، که د اوسني مصحف پرځای وضع کړئ، څومره ناوړه موضوع ترې جوړېدای شي. یعنې په امت کې هېڅوک د دې جرئت نشي کولای چې د قرآن دغه مصحف رد کړي. خو د خلافت په اړه دا ډول نظر له اسلام دښمنه مفکورو څخه سرچینه اخلي.

**ژمن: که له فقهي اړخ نه ورته وګورو، په اسلامي فقه کې دا بحث شته چې په اسلامي نړۍ کې دوه خلیفه ګان وي. یعنې د اسلامي نړۍ په هېوادونو کې څو حاکمان حاکمیت کولای شي. زیدیه شیعه ډله چې اهل سنت ته ډېره نږدې ده، دا نظر لري.**

مستنیر: دا بحث ډېر متاخر او وروستی دی، تر دې وړاندې صحېح احادیث شته چې د یوه خلیفه په شتون کې بل خلیفه حاکمیت نه شي کولای. یعنې د دویم خلیفه باید سرله تنه ښېل شي. کله چې صحېح احادیث شتون ولري، بیا د اجتهاد دروازه بندېږي. اصحابو پر همدغه نبوي طریقه اجماع کړې. د دوی اجماع هم دریم تفصیلي شرعي دلیل دی.

**ژمن: حزب التحریر هغو مسلمانانو ته په کومه سترګه ګوري، چې په دغه ډله کې نه دي؟**

مستنیر: کوم کسان چې د کفري نظامونو په حکمي پوستونو کې کار کوي او مسلمانان وژني، طبعا فاسقان او ظالمان دي. کوم قاضیان او نور مشران چې کفر پلی کوي او بغیر ما انزل الله فیصله کوي، هغه هم فاسقان او ظالمان دي او که په زړه کې یې نه مني بیا کافران دي. لکه بشار الاسد. یا قذافي چې له سنتو منکر و. حزب التحریر ورته دیارلس کسه د امر بالمعروف له پاره ورولېږل، هغوی یې ټول شهیدان کړل. په دغه وفد کې د حزب اوسنی امیر نه و لېږل شوی، ده په شپو شپو ژړل چې کاشکې خدای ده ته هم د هغوی په څېر د شهادت مقام ورکړی وای.

عام مسلمانان زموږ په نظر فاسقان نه دي، هغوی باید راویښ کړل شي. خو څوک چې دیموکراسي مني، فاسقان دي.

**ژمن: دا په دې معنی چې تاسې د نظر په اختلاف هم نه یاستئ قانع. په اسلام کې خو اصل دا دی چې که چا اجتهاد وکړ او سهوه شو، هغه ته یو اجر دی او که سم و، دوه اجره دي. اوس اخوان المسلمین اجتهاد کوي او دیموکراسي مني، تاسې دا اختلاف نه منئ او هغوی فاسقوئ!**

مستنیر: د دوی نیت د فاسق نه دی، خو عمل یې په فسق تمامېږي، دا لویه ستونزه او ګناه ده. د دیموکراسۍ موضوع کې چې دوی کوم اجتهاد کړی، دا اصلا اجتهاد نه دی، ځکه دې موضوع کې اجتهاد له قرآن او سنت څخه کیږي، نه له اوسني واقعیت څخه. هغوی اوسنی واقعیت منلی او بیا له اسلام نه د دغه واقعیت د دفاع لپاره دلایل وړاندې کوي، په داسې حال کې چې اوسنی واقعیت باید د اسلام له غوښتنې سره سم تغییر شي. دیموکراسي قبل المیلاد کې هم وه، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې عمل ونه کړ. محمد مرسي چې کوم قانون جوړ کړ، هغه یې خلکو ته ولې وړاندې کړ؟ زموږ په نظر که څوک اسلامي قانون وضعه کوي او ملت ته یې وړاندې کوي چې پلی یې کړي، دا په حاکمیت کې له خدای سره شریک نیول دي، ځکه د اسلام تحکیم پر امت باندې الله متعال فرض کړي دي، په دې اړه د خلکو رایه او نظر هېڅ ارزښت نه لري.

**ژمن: مننه.**